**مطبوعاتي اعلاميه**

# له قصاب بشار سره د حماس ليدونکي پلاوي ته: «أَلَا وَإِنَّ الإِيمَانَ حِينَ تَقَعُ الْفِتَنُ بِالشَّامِ»

**(ژباړه)**

په ډېرې خواشينۍ سره مو وليدل چې د حماس او د خليل الحية په مشرۍ د فلسطيني ډلو پلاوي د يوه رسمي سفر په ترڅ کې له ظالم بشار سره ليدنه وکړه، دا لومړی ځل دی چې حماس د سپټمبر په ۱۵مه اعلان وکړ چې له کفري بعثي رژيم سره به خپلې اړيکې بيا رغوي. د ۲۰۱۲م کال د ګډوډيو پرمهال د دغه غورځنګ د سياسي دفتر مشر اسماعيل هنيه د پرېکون دليل داسې بيان کړ: «موږ د يوه داسې رژيم ترڅنګ نه شو درېدلی چې خپل خلک وژني او څوک چې له موږ سره په حق درېدلي وي، موږ به پر باطل نه ورسره درېږو."

هنيه دغه څرګندونې د بشار د ظالم رژيم د جنايت د پيل پرمهال کړې وې، چې لا يې په سوريه کې تر دوو ميليونو ډېر مسلمانان نه وو وژلي، انساني سپيو يې په زندانونو کې پر زرګونو مسلمانو ښځو جنسي تيري نه و کړی، زرګونه بمونه يې نه وو غورځولي، د سوريې ښارونه يې نه وو ويجاړ کړي؛ تر شکنجو لاندې د وژل شويو زرګونو کسانو عکسونه نه وو افشا شوي او داسې نور وحشيانه بشري جنايتونه چې يوازې وحشي انسانان يې له الله، د هغه له رسول او مؤمنانو سره په دښمنۍ کې کوي؛ دا جرمونه لا روان دي.

موږ حيران يو؛ څه بدل شوي چې حماس خپل چلند ورسره بدل کړ؟ موږ له حماس څخه د يوه اسلامي حرکت په توګه پوښتنه کوو چې د دې جنايتکار رژيم لپاره کوم شرعي حکم شته چې زموږ عزت يې تر پښو لاندې کړی، زموږ وينه يې توی کړې، کورونه يې را ويجاړ کړي او له خاورې يې شړلي يو؟

په داسې حال کې چې موږ له درد او وير څخه ډک وضعيت کې سوځو، تاسو ته وايو چې دا هغه څه نه دي چې موږ يې ستاسو په اړه فکر کاوه. ايا اسلامي وروروالي همداسې وي!؟ ايا دا پر يوه مسلمان د بل مسلمان حق دی؟! رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ»**

**ژباړه:** «مسلمان د مسلمان ورور دی، نه ظلم پرې کوي او نه يې دښمن ته سپاري»

**«المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ، لَا يَخُونُهُ وَلَا يَكْذِبُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ»**

**ژباړه:** «مسلمان د مسلمان ورور دی، نه خيانت ورسره کوي، نه دروغ پسې وايي او نه يې رسوا کوي.»

ايا دا رسوايي او لوبډو ته د شام د خلکو پرېښودل نه دي!؟

موږ نه پوهیږو چې تاسو ولې جنایتکار بشار ته لاسونه ورکوئ، هغه څوک چې د شام د خلکو وینې تویولو ته دوام ورکوي، ایا اسلام تاسو پر همدې مکلف کړي یئ!؟

**ګرانو ورونیو:** د اسلام دښمنان لګیا دي چې د مسلمانانو پر وړاندې د خپلو جنایتکارو سیاستونو په پلي کولو سره په سیمه کې دغه ظلم ته ځای ورکړي او تاسو په دغه جنایت کې ورسره شریک یاست او ان ښکاري چې ملاتړ مو یې کړی، نو په دې کار سره به څنګه له خپل رب سره مخامخ کیږئ!؟

**اې زموږ ورونیو:** د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د جهاد لپاره باید څه وشي، ترڅو د الله سبحانه وتعالی، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او د مسلمانانو ملاتړ وشي او د الله سبحانه و تعالی او د رسول صلی الله علیه وسلم له دښمنانو څخه خلاص شو. ظالم بشار د الله سبحانه و تعالی دښمن دی، نو ولې د الله تعالی په خاطر نه په قهر کیږئ؟!

**اې زموږ ورونیو:** دا ستاسو مرګ دی چې خپل ځانونه مو د ګوډاګیو واکمنانو په واک کې ورکړي، سیاسي پریکړې مو په قطر او ایران پورې تړلې، چې په مردارو سیاسي پیسو مو دوکه کوي او په دې سره مو واک او اختیار په لاس کې اخلي. نو تاسو صادقانه د اسلام بیان نه شئ کولای او د هغو کړنو د ترسره کولو حقیقي اراده نه لرئ چې اسلام یې حکم کوي. تاسو ډاډه یاست چې دا سپیڅلې خاوره به له یهودو څخه تر هغه وخت پورې نه ازادیږي، چې څو اسلامي امت او د اسلامي امت د لښکرو په مرسته د خلافت په تاسیس سره د مسلمانانو له لښکرو سره یو ځای د قدس په لور روان نه شئ، نو څه شی مو مخه نیسي؟ ایا دا د ګوډاګیو واکمنانو او د هغوی په مردارو سیاسي پیسو ستاسو انحصار نه دی؟!

**اې زموږ ورونیو:** د شام هېوادونه یو دي. بیت المقدس، د بیت المقدس شاوخوا او زموږ دښمن یو دی؛ یهودي دولت او د حاکمانو او جنایتکارانو ډله چې د اسلام د دښمنانو سیاستونه پلي کوي. ستاسو دنده دا ده چې له هغو کسانو سره دښمني وکړئ چې د الله سبحانه وتعالی، د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو سره دښمني لري.

**اې زموږ ورونیو:** پر موږ ګران یاست. نو ځکه سپارښتنه درته کوو چې تقوا وکړئ، له الله سبحانه وتعالی څخه وویریږئ او په اخلاص توبه وکړئ؛ هغه سبحانه و تعالی به ستاسو ګناهونه وبښي او پوه شئ چې د الله تعالی فتح تر هغه وخت پورې نه راځي، تر څو مو د هغه پر ټینګه رسۍ منګولې نه وي لګولې او د شرعي حکم پیروي مو نه وي کړې، چې د امت پر وړاندې مو له جرمونو څخه پر خلاصون مکلفوي. موږ تاسو ته بلنه درکوو چې د الله سبحانه وتعالی په کلام کې تدبر وکړئ:

**(وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ * إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ * وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ)**

**ژباړه:** *«خو د الله تعالی پر یووالي د دې څرګندو ښو نښانو د لیدلو سربېره ځینې خلک له الله تعالی پرته نور د هغه شریکان ګرځوي، له هغوی سره داسې محبت لري لکه څنګه چې له الله سره محبت لرل ښایي. په داسې حال کې چې ایمان لرونکو ته تر هر چا ډېر الله تعالی محبوب وي. هغه ادراک او احساس چې*

*ظالمانو ته د عذاب د لیدو پرمهال پیدا کېدونکی دی، که همدا نن دوی لیدلی وای، نو باور به یې راغلی و چې ټول قوت او ټولې واکمنی یوازې د الله تعالی دي او په دې به یې هم باور شوی و چې له الله تعالی سره ډېر سخت عذاب شته. کله چې هغه سزا ورکړي، په هغه وخت کې به حالت داسې وي چې هماغه مشران او رهبران چې په دنیا کې یې پیروي کوله، له خپلو پیروانو څخه به بېزاري څرګنده کړي، خو په عذاب به اخته شي او د هغوی د ټولو سببونو او وسایلو بار په پرې کړل شي. هغه خلک چې په دنیا کې یې د هغوی پیروي کوله، وبه وایي: کاش چې یو ځل بېرته دنیا ته زموږ تګ شوی وای، نو څنګه چې نن دوی له موږ څخه بیزاري څرګندوي نو موږ به هم له دوی څخه بیزراري ښکاره کړو. دغه راز به الله تعالی د دې خلکو هغه عملونه چې په دنیا کې یې کړي وو، داسې د دوی مخې ته کښېږدي چې دوی به د افسوس او پښېمانتیا لاسونه ومروړي خو له اور څخه د وتلو هېڅ لاره به پیدا نه کړي.»* [بقره: ۱۶۵- ۱۶۷ ]

بل ځای فرمایي:

**(إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ * ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ * فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ *)**

**ژباړه:** *«حقیقت دا دی کوم کسان چې د هدایت له روښانه کېدو څخه وروسته په شا وګرځېدل، د هغو لپاره شیطان دغه کړنلاره اسانه کړې ده او د دروا غجنو هیلو لړۍ یې د هغوی لپاره اوږده کړې ده. له همدې امله دوی د الله تعالی د نازل کړي دین بد ګڼونکو ته وویل چې په ځینو چارو کې به موږ ستاسو (حکم) منو. الله تعالی د دوی په دغو پټو خبرو ښه پوهېږي. نو په هغه وخت کې به څه حال وي چې پرښتې د دوی ساګانې اخلي او پر مخونو او شاګانو یې وهي؟»* [محمد: ۲۵- ۲۸]

**په پایله کې:** زموږ خبرې ښایي پر تاسو سختې تمامې شوې وي، خو دومره سختې نه دي چې زموږ او د خپل امت د بچیانو او په ځانګړې توګه د سوریې د خلکو زړونه مو ظالم بشار ته په موسکه خوله لاس ورکولو ډک کړل. موږ تاسو ته د هغه څه خطاب کړی چې اسلام امر پرې کړی. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې ستاسو زړونه د توبې لپاره خلاص کړي او الله سبحانه وتعالی ته رجوع وکړئ، ترڅو په قوي توګه اسلام پرمخ بوزئ. تاسو به د اسلام او مسلمانانو په ډګر کې د اسلام له دښمنانو او د هغوی له غلامو او ظالمو واکمنانو سره مقابله کوئ. پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړئ، چې فتح یوازې د هغه سبحانه و تعالی په واک کې ده.

فتح او بری د قطر، ایران او یا د ظالم بشار په لاس کې نه دی؛ اصلي بری د دوی جنایتونو ته په غاړه نه ایښودو کې دی. نو پر الله تعالی ایمان راوړئ او هغه سبحانه وتعالی به پر تاسو باور وکړي او که داسې ونه کړئ، نو د الله سبحانه وتعالی له لوري قهر او غضب ته په تمه شئ چې زغمل یې ډېر سخت دي.

**یا الله،** زمونږ د ورونو لپاره د هدایت لاره اسانه کړه او د هغوی سینه ستا د اطاعت او د دین د ملاتړ لپاره خلاصه کړه.

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۲ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۶مه

۲۰۲۲م کال، د اکتوبر ۲۲مه

د صدور ګڼه: ۰۱۵/ ۱۴۴۴